دریمه کچه

# اوچت يې کړه




**ليکوال:** فاني ويجيون
**انځور ګر:** سټيفن واليس

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



کله چې د ښوونځي زنګ ووهل شو، ځونډي ګل غږ وکړ، " هی، هی" اوس به هغه کورته لاړ شي.
نن ماسپښین غواړي له نورو هلکانو سره فوټبال وکړي. ناڅاپه یو غږ پرې وشو “ هې! دیخواه ګوره"
ځونډي ګل هیڅکله (بابک) نه وه لیدلی. بابک په ځونډي ګل غصه شه.

ځونډي ګل ډیر ژر ځواب ورکړ: “ اوبښې"
ځونډي ګل غوښتل بابک خواته لاړ شي، خو بابک هغه ټیل واهه او پر ځمکه را وغورځیده.
بابک وخندل. “ آیا ستا پښې دومره اوږدې دي چې پر ځمکه را پریوتې؟“ هغه ملنډې وهلې. ځوریدلی ځونډي ګل را پورته شه. او یوې انجلۍ (سنبل) له هغه سره مرسته وکړه.
ځونډي ګل وویل: “ مننه"
انجلۍ ځواب ورکړ: " هیله کوم"
سنبل وویل: " ما هر څه ولیدل. بابک ډیر ظالم دی."





ځونډي ګل کور خواته منډه کړه. هوا ډېره توده وه. خو د هغه کور نږدې ؤ. ناڅاپه هغه د سړک په سر څه ولیدل. هغه ودرید. دا څه دي؟ دغه توکی د هغه د لاس په اندازه ؤ. رنګ یې نصواري ؤ. او له څرمن څخه جوړ شوی ؤ.



د جیب بکسه ده! ځونډي ګل په خپلو تالو باور نه درلود. هغه د بکسې منځ ته وکتل. اوه هو، په دې کې خو پیسې دي!



د ځونډي ګل زړه دړبيده. بيا يې بکسه په جيب کې واچوله.
هغه هر خواه کتل چې کوم کس هلته شته که نه.
هو! يو کس را روان دی.
دا خو بابک دی. هغه يو څو قدمه له هغه څخه لرې ؤ.



ځونډي ګل په منډه شه. هغه فکر کاوه چې
بابک يې نهويني. هغه شاته نه کتل.
بکسه د هغه په جيب کې پرته وه. کله چې
هغه کورته ورسيږي بيا به وګوري چې
څومره پيسې په بکسه کې دي.



ځونډي ګل خپل بیک په کور کې کیښود. بیا د یوې ونې سیوري ته چې د دوی کورته نژدې وه، کیناست.
په ډیر پام سره یې بکسه له جیبه را و ایسته. زړه یې دربیده. هغه پیسې وشمیرلې. په سلګونو روپۍ په کې وې. هغه اوس ډیر بډای شو. له هغې وروسته یې یو غږ تر غوږو شه. دا بابک ؤ ورته وې ویل: " څه شی پټوې؟"



ځونډي ګل بکسه خپل شاته پټه
کړه. بابلک ورته وویل: “ اوس نا
وخته ده. ما ولیدې چې کوم شی
دې له ځمکې را پورته کړل. نو د
همدې لپاره زه راغلم چې ووینم دا
څه دي.“ بابک د ځونډي ګل لاس
کش کړ. د بابک سترګې ټاغې را
و وتلې کله چې یې بکسه ولیده.
بابک بکسه واخیسته. بابک په
حیرانۍ سره وویل: “ واو! دا
څومره ښایسته ده. غواړې دا
وساتې؟"



ځونډي ګل په ویریدلي غږ وویل: " نه پوهیږم.“ بابک هم
پیسې وشمیرلې او وې ویل: “ دا خبره دې اوریدلې چې
وایي؛ میندونکي ساتونکي دي."
بابک غږ کړ: " ته باید دا وساتې. که چیرته زه دا وخلم،
نو زه یې باید وساتم."
ځونډي ګل وویل: " دا بکسه له کوم کس څخه ورکه شوې
ده." بابک وخندل: “ نو څه؟ هغوي بې پروا وو. اوس دا
ستا پیسې دي."



ځونډي ګل وویل: “ په دې اړه باید زه سوچ وکړم."
بابک وویل: " سوچونو ته اړتیا نشته. زه درته وایم چې څه وکړې. پیسې وساته. ځانته نوي بوټان واخله. یا د فوټبال لپاره یو ټوپ واخله.
سنبل غږ وکړ: " نه! دا پیسې ستا نه دي. ته حق نه لري چې دا پیسې وساتې."



بابک له سنبل څخه وپوښتل: " ته څه پوهیږې؟ هغه سنبل ته مخ ورنږدې کړ. ته په هر څه ځان پوهه ګڼې. ځوندۍ ګل نه غواړي چې پیسې چاته ورکړي.“

ځوندۍ ګل هغوی دواړو ته غوږ ؤ. نه پوهیده چې څه وکړي. غوښتل یې پیسې وساتې. خو شاید سنبل به ریښتیا وایي. کوم څه چې ستا نه وي باید وې نه ساتې. که څه هم تا موندلي وي. ناڅاپه بابک د هغه په مخ کې ودریده. بابک د ځوندۍ ګل لاسونه را تاو کړل، او وي ویل: “ ته څه کوې، ځوندۍ ګله؟ غواړې دا پیسې وساتې که یې څیښتن را پیدا کوئ؟" ځوندۍ ګل په فکر کې شه.



ځونډي ګل وويل: " زه غواړم دا پيسې خپل ښوونځي ته وسپارم."
سنبل په موسکا شوه: " دا ښه کار دی چې ته يې کوې."
بابک سر وښوراوه او ويل يې: " دوی ته ګوره."
بابک بيرته ځونډي ګل ته بکسه ورکړه او وې ويل: "ځونډي ګله، ته ليونی يې."
خو سنبل وويل: " ځونډي ګله، ته ليونی نه يې. که چيرته دا بکسه ته له ځان سره وساتې، د بابک په شان به بد سړی شې."
ځونډي ګل موسکی شه. هغه خوشحاله شه چې سنبل ورسره په دې اړه مرسته وکړه. بيا ځونډي ګل له سنبله پوښتنه وکړه: " د پيسو څيښتن به څنګه را پيدا کړو؟"




سنبل بکسه وکته. هغې د بانک کارت را ویست. په کارت باندې (ګل پرې) لیکل شوې وه. دا نوم ځونډې ګل ته آشنا ؤ. سنبل یو بل څه هم له بکسې را ویستل. دا د ګل پرې او د هغې د ماشومانو عکسونو وو.

ځونډې ګل هغوی وپیژندل. ځونډې ګل وویل: " هغوی دلته نزدې اوسیږي. راځه چې دا بکسه هغوی ته بیرته ورکړو."



ځونډی ګل او سنبل دواړو په سړک د ګل پري کور خواته منډي کړې.
د ګل پري ترور د کور دروازه خلاصه وه. دروازه يې ور وټکوله. يو کس له دروازې را بهر شو. دا کس ګل پري ترور وه. له ژړا ډکه ښکاريده.



ځونډي ګل چې دا حالت ولید، ډېر خفه شه. بیا یې له جیبه بکسه را و ایسته. ګل پرې ترور خوشحاله شوه. هغې وخندل " زما بکسه! هیڅ باور مې نه راځي." خپلې پیسې یې وکتې. " ټولې پیسې مې شته. زه ډیره خوښه یم. زه تللم چې څه خواړه واخلم، خو زما بکسه ورکه شوه. فکر مې کاوه چې دا اونۍ به په لوږه تیروو." هغې دواړه په تندي ښکل کړل. له ډیرې خوښې نځل. له یو څه ځنډ وروسته ځونډي ګل او سنبل کور ته لاړل. ځونډي ګل ډېر خوښ ؤ چې یو ښه کار یې وکړ. سنبل ریښتیا ویل. که چیرې ځونډي ګل دا پیسې ساتلې وی، د بابک په شان به بد وی. خو نن هغه د یو اتل په شان دی.

# لاربښودونکې پوښتنې

1. سنبل کوم شخړه ایز نصیحتونه څونډې ګل ته کول. د دوی په کوم شي شخړه وه؟
2. که چیرې څونډې ګل جیبي بکسه یا بټوه واپس کړې نه وی، څه فکر کوئ چې څه به پیښ شوي وی؟
3. تاسو کوم یوه سره ورته والی لرئ، څونډې ګل سره، بابک سره یا سنبل سره؟ ولې داسې فکر کوئ چې تاسو هغوی ته ورته والی لرئ؟
4. که چیرې تاسو د څونډې ګل پر ځای وی، تاسو به له جیبي بکسې سره څه کړې ؤ، او ولې؟
5. آیا کله مو څه ورک کړي دي؟ بیرته مو تر لاسه کړل؟ څه احساس مو درلود؟ آیا کله مو څه موندلي او بیرته مو خپل څیښتن ته ورسپارلي دي؟ هغوی څه احساس درلود؟